د افغانستان د ټاکنو او روڼتیا د څار مؤسسه
مؤسسه دیده بان انتخابات و شفافیت افغانستان
Election & Transparency Watch Organization of Afghanistan

د افغانستان د ازاد او عادلانه ټولټاکنو ټولنيز موسسه
موسسه اجتماع انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان
Free & Fair Election Forum of Afghanistan organization

# ګډه خبرپاڼه

## د ۱۳۹۷ کال پارلماني ټاکنې

کابل – د افغانستان خلکو سږکال په پارلماني ټاکنو کې يو ښکلی او بې ساری انځور له ځانه وښود؛ داسې انځور چې د هېواد د پرمختګ په برخه کې د رغنده بدلون او د برخليک ټاکلو لپاره د پياوړي ارادې او د ډموکراسۍ د تمرين ښکارونديي کوي. د رايې اچوونکو تر څنګ، څه د پاسه ۱۱۴۰۰ څارونکو د نوماندانو د ټاکنيزو فعاليتونو له بهير او د ټاکنو په ورځو کې د رايې اچونې او د رايو شميرنې له پروسې څخه څارنه وکړه. دغه څارونکي د يو شمېر بنسټونو له خوا د افغانستان په ۳۳ ولايتونو کې ګومارل شوي وو چې په دغه بنسټونو کې : د افغان ښځو لپاره د بشر حقونو د روزنې مرکز، د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ (تيفا)، د افغانستان د ټاکنو او روڼتيا د څار موسسه (ايتوا)، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا)، د افغان مدني ټولنې مجمعه (مجما)، او د افغاني معلولينو لپاره د بايسکل چلونې او بيارغوونې تفريحی موسسه (ابرار) پکې شامليږي.

د تېرو پنځلسو کلونو په اوږدو کې، د افغانستان خلک د دغه هېواد د سياسي او ټولنيزو بنسټونو د جوړښت په بيلا بيلو پړاونو کې د ډموکراسۍ د تمرين په حال کې دي. د ۱۳۹۷ کال په پارلماني ټاکنو کې داسې ښکاري چې د افغانستان خلک د يو بنسټيز بدلون غوښتونکي دي، داسې بدلون چې د پارلمان د څوکيو لپاره د خپلو ريښتينو استازو د ټاکلو له لارې د خپل سياسی برخليک په ټاکلو کې ونډه ولري. په دغو ټاکنو کې د خلکو پراخ او د پام وړ ګډون د خلکو ددغې غوښتنې ښکارندويي کوي.

د ۱۳۹۷ کال ټاکنې په اوږدو کتارونو کې د رايې اچوونکو له ليوالتيا او ولولو سره پيل شوی او د ښځو او ځوانانو پراخ ګډون دغو ټاکنو ته جلا ځېره ورکړه. دا ځل افغان امنيتي ځواکونه د نړيوالو امنيتی ځواکونو په نه شتون کې ښه وځلېدل. رسنيو په دوامداره پوښښ، د هغو خبرونو له خپرولو څخه په ډډه کولو سره چې د رايې اچووکو د روحيې د کمزوري کېدو لامل کېدل، د خلکو د پراخ ګډون ښکارول او د خلکو په هڅولو سره خپله ونډه په ډېره ښه توګه ادا کړه. همدارنګه د مدني ټولنې بنسټونو د ټاکنو د بيلا بيلو پړاوونو څخه د څارنې په موخه په ټول هېواد کې د زيات شمېر څارونکو په ګومارلو سره، هڅه وکړه چې په ټاکنو کې د فساد او درغلۍ د بيلا بيلو ډولونو څخه مخنيوی وکړي او په دې ډول د ريښتينو استازو په ټاکلو کې د خلکو د ارادې د پلې کېدو پياوړي ساتونکي وي.

د رايې اچونې د مرکزونو په مديريت او کړنو کې د ځينو نيمګړتياو د رامنځته کېدو له کبله د ټاکنو په لومړنيو ساعتونو کې د رايې اچونې لپاره د خلکو هغه پراخ ګډون او لېوالتيا له بده مرغه له ننګونې سره مخامخ شوه او ګڼ شمېر رای اچوونکي سره له دې چې په اوږدو کتارونو کې په ساعتونو په تمه وو، ونه توانېدل چې خپله رايه وکاروي. د ډېريو ستونزو او ننګونو مهم دليل د ټاکنو خپلواک کميسيون نه همغږي او کمزورې کړنه وه. زمونږ د څارونکو کتنې او راپورونه د پارلماني ټاکنو په بهير کې د ګڼ شمېر ستونزو او ننګونو ښکارونديي کوي چې تر ټولو مهم يې په لاندې ډول دي:

- د ټاکنو خپلواک کميسيون لخوا د رايې اچونې د مرکزونو په کنټرول کې د مديريت کمزورتيا او نه همغږي.
- د ځينو نوماندانو لخوا له ټاکنيزو قوانينو او چلنلارو څخه سرغړونه لکه د رای اچونې په مرکزونو کې ټاکنيز تبليغات.
- د بايومټريک د الو (دستګاه) زيږنده ستونزې، له دې کبله چې د کميسيون د کارکوونکي ددغې آلې په سمه ګټه اخېستنه باندی بلد نه وو او دوی پوره روزل شوي نه وو، د الو خرابوالي او د ستونزې د هواري لپاره د تخنيکي مرستو نشتونوالی.
- په ډيری مرکزونو کې د نوملړ د نشتوالي په شمول د رايه اچوونکو د نوملړ زيږنده ستونزې، له يوه محل څخه بل ته د نوملړ استول، په نوملړ کې د ځينو رايه اچوونکو د نومونو نشتوالی يا د هغو نومونو نشتوالی چې د آبېڅي (الفبا) په ځينو حرفونو لکه ک، ګ، ع او داسی نورو باندی پيلېدل.

- د ټاکنو په تمدید او په دویمه ورځ ټاکنو کې د ټاکنو له قانون څخه سرغړونه.
- د یو شمېر نوماندانو او ګوندونو د استازو لخوا د ټاکنو قانون او چلنلارو څخه سرغړونه او ناوړه ګټه اخیستل، د بېلګې په توګه د رایې اچونې په مرکزونو کې ټاکنیز تبلیغات او د ځان په ګټه په رایې اچوونکو د فشار اچول او په تمه کول.

د خپلواکې او بې پرې څارنې د مجموعې په توګه او په هېواد کې د ټاکنو د ښه ترسره کېدو په موخه، هغو بیلا بیلو ډلو ته چې د ټاکنو د پروسې په ترسره کولو او په ملاتړ کې بنسټیز رول لري زمونږ وړاندیزونه او سپارښتنې په لاندې ډول دي:

د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته:

- دویمې ورځې ته د ټاکنو د تمدیدولو ته ورته بنسټیزو پریکړو کې قوانینو او چلنلارو ته درناوی او د ټولو ښکېلو خواو نظر او رایې اخیستل.
- د کمیسیون کارکوونکو لپاره مسلکي روزنو ته پاملرنه او د رایې اچونې په پروسه کې او د وخت د ضایع کېدو څخه په مخنیوي کې د هغو رول.
- په بېلا بیلو کچو کې د کمیسیون د کارکوونکو او د څارونکو او کتونکو تر منځ د اړیکو د یوه اغېزناک سیستم رامنځته کول.
- د دندو د وېشلو د څرنګوالي په هکله بیا کتنه او د کمیسیون د لندمهالو کارکوونکو په توګه د ښوونکو په دنده ګومارل.
- په راتلونکو ټاکنو کې د رایې اچوونکو د نوملړ او بایومتریک آلی د کارونې په باره کې د ترلاسه شویو تجربو څخه زده کړه.
- د ټاکنو د تقسیم اوقات مطابق په خپل وخت د لومړنیو او اخرنیو پایلو اعلانول.

رایه اچوونکو ته: د خپلو ټولنیزو او ښاروندي حقونو د ترلاسه کولو د یوې پیاوړي وسیلې په توګه د رایې له حق څخه سمه ګټه اخستل د رایه اچوونکو له بنسټیزو دندو څخه ده.

امنیتي ځواکونو ته:

- د بې پرې توب ساتل او د نوماندانو په ګټه فعالیت نه کول؛
- د ټاکنو په پروسه کې د یوې بنسټیزې او مهمې برخې په توګه د څارونکو او کتونکو د امنیت ټینګښت.
- د څارونکو، کتونکو، د نوماندانو او سیاسی ګوندونو د استازو او نورو ښکېلو خواوو په شمول په ټاکنو کې د ښکېلو خواو د رول، دندو او مسؤولیتونو په اړه د امنیتي ځواکونو روزنه.

نړیوالې ټولنې ته: د ټاکنو د پروسې او اصلاحاتو لپاره مالي او تخنیکي همکاریو او ملاتړ ته دوام ورکول.

سیاسي ګوندونو، نوماندانو او د دوي استازو ته:

- له نورو څارونکو او کتونکو ډلو سره همغږي او همکاري؛
- استازو او څارونکو ته د دوي د مسوولیتونو، حقونو او صلاحیتونو په اړه روزنه.
- د ټاکنو قوانینو او چلنلارو ته پاملرنه او درناوی او له هغو څخه نه سرغړونه.

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته:

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ټاکنو په پروسې او اعتبار ورکونه کې اخرنی او اړین رول لري. د تیرو ټاکنو څخه د ترلاسه شوي تجربو او د ټاکنو ورځې کمزوري مدیریت ته په کتو، مونږ په کلکه سپارښتنه کوو چې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون:

- خپلې ټولې کتنې او پریکړې د منل شوي او تصویب شوي قوانینو، مقرراتو او چلنلارو په اساس تر سره کړي؛
- د خپلو ورځني کړنو او لاسته راوړنو د روڼتیا او معلوماتو د شریکولو په اړه خلکو ته ډاډ ورکړي؛
- د لانجو او جنجالونو د رامنځته کېدو په صورت کې لازمو مشورو اخیستو لپاره د یو سم او باوري ډله یا حلقه رامنځته کړي ؛ همدارنګه
- د حساسو معلوماتو او پرېکړو چې د اوازو او پروپاګند وسیله ګرځېدلی شي، د اخرنی تصویب څخه د مخه د هغوي د شریکولو څخه ډده وکړي.

د پارلمان راتلونکو استازو ته: د ترلاسه شویو تجربو ته په پام سره د ټاکنو د قوانینو او چلنلارو بیا کتنه او اصلاح کول.